# د امیر کروړ په حماسه کي د یرغال کلمه

امیر کروړ ویلي دي .

" په ژوبله یونم یرغالم پر تنبتېدونو باندي"

(۳۴ مخ ـ پټه خزانه)

اول باید دغه فعل وپېژنو، چي اصل یې یرغال دئ که یرغل؟

د امیر کروړ د ژوند وخت د ۱۳۰ هـ ق حدوډ دي، مګر وروسته دغه کلمه په اوومه پېړۍ کي د ښکارندوي په قصیده کي داسي راغلې ده :

"زمری کله کاږي ځان له یرغل ګریو"

(پټه خزانه ـ ۵۵ مخ)

وروسته د خوشحال خان په وخت کي داسي استعمالېده :

"عشق دئ، چي همېش یې په توبه باندي یرغل سي"

(دېوان ۵۲۹ مخ ـ د کندهار چاپ)

له دې سندونو څخه ښکاري چي د فعل ماده یرغل دئ نه یرغال. او د امیر کروړ په حماسه کي یرغالم د مفرد متکلم لپاره د حال فعل دئ. کله کله په فعلي تصرفاتو کي یو الف یا مصدري ماده باندي زیاتیږي لکه اچول چي امر یې اچوي دئ. زما په خپل خیال دغه یرغاله هم په اصل کي د یرغل له مادې څخه راوتلی او په فعل حال کي یو الف پر زیات سویدئ. نور مثالونه :

ګنډ ـ ګنډل ـ امر : وګنډه

شړه ـ شړل ـ امر : وشړه ـ ماضی : وشاړه سوی دئ نور مثالونه :

منډ ـ منډل ـ امر : ومنډه ـ ماضی : وماندېه. اوس به نو وګورو چي پخپله یرغل په کوم دلیل مغولي سویدئ؟

داسي دليل نسته مگر ښايي چي ځينو مغرضانو د يرغل تشابه د ترکي کلمې ايلغار سره د ځان دليل کړئ وي اول خو بايد ووايو : چي ايلغار ترکي کلمه او معنا يې حمله ده (غيات) چي د پښتو يرغل سره معنوي نژدېوالی لري، او دغه خبره سړی په فکر کي اچوي چي گوندي پښتو يرغل به له ايلغار څخه راوتلی وي. مگر د کلماتو د تلفظ او ږغونو سره نژدېوالی هغه وخت معيار گڼل کېږي چي دوې ژبې له يوې کورنۍ څخه وي لکه پښتو او نورې آريايي ژبې، اما که يوه کلمه د پښتو او عربي دا سره ورته وي، نو سړی هرو مرو نه سي ويلای چي پښتو به له عربي څخه اخيستې وي، ځکه چي عربي په کورنۍ کي له پښتو څخه بېله (سامي) ژبه ده، او دغسي هم ترکي په (هندي اروپايي) يا آريايي ژبو کي نه ده نو که پښتو له ترکي څخه ځيني کلمې اخيستي هم وي لکه : جرگه، اولس ـ ترنگ ـ دغه ټولي دخيلي کلمې دي چي تر اسلام دمخه د کوشانيانو او هپتاليانو او ترکانو پاچهانو په زمانو کي د پښتو سره گډې سوي او داسي منلي سوي دي چي اوس يې کټ مټ پښتو گڼو.

که د تشابه پر اساس کلمات سره گډ کو، دا هم سمه خبره نه ده او داسي کلمات سته. د پښتو چار (کار) د دري چار (څلور) د پښتو زار (جار) د دري زار (زبون) د پښتو دار ( په دارول) د عربي دار (کور) د پښتو نار (شاخچه) د عربي نار (اور) د پښتو سدری ( چي په اوستا کي سدره ده) د عربي صدری نه ده. په دې ډول يوازې د تشابه پر اساس پښتو يرغل له ترکي ايلغار سره نه نښلول کېږي که يرغل له ترکي ايلغار څخه راوتلی وي نو به ښايي چي يلغر يا الغر يا بل څه وای. پښتو يرغل له ترکي ايلغار سره څه اړه لري؟ دا بېله کلمه او د پښتو آريايي ژبې څخه ده، هغه ترکي کلمه او له التايي ژبو څخه ده. بله دا هم زده کړئ چي د ژبو همسايگي او نژدېوالی يو پر بل باندي خامخا اثر کوي. تر اسلام دمخه ترکانو په دې سيمه کي حکومتونه کړي دي. کله چي سبکتگين لا نه ؤ راغلی د بست او غزني حکمرانان داخلي ترکان وو چي پخپله په کوشاني ډېرليکونو کي ترکي کلمې لکه : الغ، قزل د دري د شهزادگانو القاب و نو ترکي کلمې حتماً په پښتو او دري دواړو کي گډې سوي دي د افغانستان د دواړو ژبو



وېونکي يې اوس وايي او پېژني يې. د غزنويانو په زمانه کي کاشغري ديوان لغات الترک کښلی دئ، دی ترنگ ترکي کلمه بولي چي معنی يې هم خوړ او د سيل د اوبو د بهېدلو ژور ځای دئ، موږ تر اوسه هم دغه ډول د ترنک رود لرو چي له مقره تر هلمنده بهېږي.

داسي راغلي کلمات ډېر دي چي موږ يې دخيل گڼو، او نوي هم نه دي راغلي بلکي د هر يوه تر يو نيم زر کاله دمخه گډون ثابت دئ، نو که د ځينو مغرضانو په قول يرغل له ترکي ايلغاره څخه رادخيل سوئ هم وي دا د پښتو نه عيب دئ نه پېغور. کومه ژبه ده چي داسي ورته مېلمانه نه لري؟

د امير کروړ په وخت کي ترکي نژادي کورنۍ په تخار او د هندوکش په سيمو کي حکمراني وې، نو هيڅ ليري نه ښکاري چي د دوي د ژبې کلمات به په پښتو او دري راگډ سوي وي، او د افغانستان د تاريخ کلتوري قديم واقعيت دی چي دلته د فرهنگ يو گډون ځای و. يوناني او عربي او ترکي فرهنگونه له دې لاري هند ته ورسېدل او پايڅوړونه يې تر اوسه لا هم زموږ په تاريخ او ژبو او کلتور کي پاته دي.

نو د يرغل د کلمې تاريخ خو له اميرکروړه تر خوشحاله رارسېږي او دا پښتو کلمه گڼو. که يې څوک حتماً په تکلف مخ و ترکي ايلغار ته وگرزوي هم د پښتو او امير کروړ د شعر اصالت نه ورانوي، ځکه چي تاريخي واقعيتونه دغه دي چي ما درته بيان کړل او ښايي چي په ترکي راغلو کلماتو کي تر امير کروړ ډېر دمخه ايلغار په يرغل مفغن سوئ وي، که نه وي پښتو کلمه په زوره په بلې ژبې پوري نښلول څه ضرورت لري؟ او که غرض نه وي، يرغل خو له امير کروړه تر خوشحال خانه پښتو کلمه وه، او اوس هم ده او وي به. (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۶۱ ل کال، ۴ ـ ۵ گڼه، ۵۰ ـ ۵۲ مخونه.